# د امام شافِعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

# اعلیٰ اوصاف

03-March-2022



هفته وراه د سُنّتو ډکه اِجتِماع کښې کېدونکے

د سُنّتو ډک بیان

(For Islamic Brothers)

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللہ — وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللہ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللہ — وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللہ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه**: ما د سُنَّتِ اعتکاف نِیَّت اوکړو)

# د امام شافِعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه اعلٰی اوصاف

## د دُرُود شرف فضیلت

حضرت عبدُالله بِن حَکَم رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: ما په خوب کښې د حضرت اِمام شافِعـي رحمۃ اللہ علیہ زیارت اوکړو [یعني اولیدلو]، ما ترینه تپوس اوکړو: **الله** پاك تاسو سره څه مُعامَله اوفرمائیله؟ اِمام شافِعـي رحمۃ اللہ علیہ اوفرمائیل:الله کریم په ما باندې رحم اوکړو، زه ئې اوبخښلم او زما د پاره جَنَّت داسې ښائسته کړے شو څنګه چې ناوې ښائسته کوي او په ما باندې د نِعمتونو باران اوکړے شو څنګه چې د واده په ځلمي [ګلونه] شیندلے کیږي. ما ترینه تپوس اوکړو: صاحِبه **محترمه**! دا اِنعام [په تاسو] په څه سبب اوشو؟ اِمام شافِعـي رحمۃ اللہ علیہ اوفرمائیل: ما په خپل کتاب **اَلرِّسَالَة** کښې یو دُرُودِ پاك لیکلے دے:

صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا ذَکَرَہُ الذَّاکِرُوْنَ وَعَدَدَ مَا غَفَلَ عَنْ ذِکْرِہِ الْغَافِلُوْنَ

بس د دې دُرُود شريف په برکت الله پاك په ما باندې اِنعام اوکړو.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

مُحترمو اسلامي ورونړو! د ثواب حاصلولو د پاره د بيان اوريدلو نه مخکښې ښه ښه نِيَّتونه کوو: فرمَانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: "اَفْضَلُ الْعَمَلِ اَلنِّيَّةُ الصَّادِقَةُ" رښتينے نيت بهترين عبادت دے.(2)

اے عاشقانِ رسول! نيك او جائز کار کښې چې خومره ښه نِيَّتونه زيات وي هغه همره به ثواب هُم زيات کيږي.

❁ د عِلمِ دِين حاصلولو نِيَّت اوکړئ او ❁نور دا نيتونه اوکړئ چې نظر به ښکته ساتم او ښه په غورسره به بيان اورم. ❁ چې خومره کيدے شي د دِډه وهلو په ځائے به د عِلمِ دِين د تعظيم [يعني ادب] په نِيَّت د اَلتَّحِيَّات په شکل کښې کښينم ❁ د علم زده کولو د پاره به پورا بيان اورم ❁د بيان په دوران کښې به د سُستئ نه ځان بچ ساتم ❁ د خپلې اصلاح د پاره به بيان اورم ❁ څه چې واورم نورو ته به ئې د رَسَولو کوشش کووم.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د کروړاؤ شافعيانو اِمام، ډير زيات مُتّقـي، پرهيزګار، عبادت ګزار، عالِمِ باعمَل، عاشِقِ رسول، د صحابه و اهلِ بيتِ کرامو سره محبت کوونکے، امام مُحَمَّد بِن اِدرِيس شافعـي رحمۃ اللہ علیہ د دويمې صدئ هجرئ د اوچتې مرتبے بُزُرګ دے، نن به مونږه د هغوئي رحمۃ اللہ علیہ د بعضو فضائلو او يو څو اعلٰـى

---

[1]…سعادة الدارين، الباب الرابع، اللطيفة الحادية والعشرون، صفحه:134ـ

[2]…جامع صغير، صفحه:81، حديث:1284ـ

اوصافو اوريدلو سعادت حاصلوو. اللّٰہ پاك دِ مونږ ته د نيكو بندګانو د سيرت نه د رنړا حاصلولو او د هغوئي په بَرَكت خپل ژوند د روښانه كولو توفيق راكړي. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم

## د هرې صدئ په شروع كښې يو مُجَدِّد را ليږلے كيږي

د سُنَنِ ابُوداؤد حديثِ پاك دے: زمونږ خوږ آقا صلَّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم فرمائي: إِنَّ اللّٰهَ يَبْعَثُ لِهٰذِهِ الْأُمَّةِ عَلٰى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا بيشكه اللّٰہ پاك به په دې اُمَّت كښې د هرې صدئ په شروع كښې يو داسې كس راليږي چې هغه به د دِين تجديد كوي.[1]

په تيرو شوو اُمَّتونو كښې دا انداز وو چې كله به يو نبـي د دُنيا نه تشريف يوړلو نو اللّٰہ پاك به بل نبـي راوليږلو، هغه به د دِين تبليغ كولو او د دِين اصل او حقيقي تعليمات به ئې خلقو ته زده كول. اوس د نَبُوَّت دروازه بنده شوې ده زمونږ خوږ نبـي صلَّی اللہ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم د اللّٰہ پاك آخري نبـي تشريف راوړے دے، اوس تر قيامته پورې بل نبـي نه شي راتلے، ځكه په دې اُمَّت كښې د دِين د تجديد دا طريقه ده چې د هرې صدئ په شروع كښې اللّٰہ پاك يو مُجَدِّد پيدا كوي او هغه د دِين تجديد كوي. خلق چې په دِين كښې كومې غلطې عقيدے شاملوي، بد نظريات د دين د تعليماتو جوړولو كوشش كوي، د قُرآنِ پاك د مفهوم بدلولو ناپاكه كوشش كوي، د ګناهونو نه ډك رسمونه او رواجونه د ديني تعليم په طور رواج جوړ شي، بيا اللّٰہ پاك مُجَدِّد راليږي، هغه، هٰغه بدې عقيدے، بد نظريات او د ګناهونو نه ډك رسمونه ختمولو د پاره د خلقو تَوجُّه راګرځوي او د دِين اصل او حقيقي تعليمات د نوي سر نه واضحه كوي.

---

[1] …ابوداؤد، كتاب الملاحم، باب مايذكر في قرن، صفحه:674، حديث:4291۔

## اِمامِ شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ هم مُجَدِّد دے

تر اوسه پورې ډير مُجَدِّد دُنيا ته راغلي دي، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! اِمام محمد بِن اِدريس شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ هم مُجَدِّد دے، اِمام احمد بِن حنبل رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: د وړومبئ صدئ هجرئ مُجَدِّد حضرت عمر بِن عبدُالعزيز رحمۃُ اللہِ علیہ وو او د دويمې صدئ هجرئ مُجَدِّد اِمام شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ دے.[1]

## د اِمامِ شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ مختصر تعارُف

❀ د اِمام شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ پوره نوم محمد بِن اِدريس دے، ❀هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ په 150 هجرئ کښې پيدا شوے وو، ❀علماء فرمائي: په کومه ورځ چې د کروړاؤ حَنَفيانو اِمام، اِمام اعظم ابُوحنيفه، نُعمان بِن ثابت رحمۃُ اللہِ علیہ د دُنيا نه رُخصت شو، په هغه ورځ اِمام شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ دنيا ته تشريف راوړو. ❀اِمام شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ لوَړ دنګ قد والا، ❀ښو اخلاقو والا، ❀د خلقو خوښ، ❀په خلقو احسان کولو والا، ❀په سُنَّتو عمل کوونکے ❀او ډير نيك سيرته وو. ❀اِمام شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ په يمن کښې پيدا شوے وو، ❀چې د دوو کالو شو نو والدِ محترَم ئې وفات شو، ❀د هغوئي مور بي بي هغوئي مکے مُکَرَّمے ته ځان سره بوتللو، ❀اِمام شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ په مکه مکرمه کښې لوئ شو،[2] ❀هلته ئې علمِ دين زده کړو، ❀اللّٰه پاك د اِمام شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ د پاره د علم دروازے بيرته کړې، ❀هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ ډير محنتي او د علمِ دين شوق لرونکے وو. ❀د اِمام شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ عمر مبارك لا 15 کاله وو چې د مکے

---

1 …مناقبِ امام شافعی للبیهقی، جلد:1، صفحه:55۔
2 …مناقبِ امام شافعی للرازی، صفحه:34،35۔

مُکَرَّمے مُفتیئ اعظم حضرت مُسلِم بِن خالِد زَنجِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هغوئي ته د فتوٰى ليکلو اجازت ورکړو.[1]

## امام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مُطَّلبِي دے

**خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو!** د اِمام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ډير فضائل دي، يو فضيلت ئې دا دے چې اِمام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د خوږ نبي، رَسُولِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هم نَسَب دے. زمونږ د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د پلار نيکونو په فهرست کښې يو نوم **حضرت عبدِ مناف** رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه دے، اِمام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه هم د عبدِ مناف رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په اولاد کښې دے.

د قُريش قبيلے څلور ښاخونه دي: **(1)** بنو هاشِم **(2)** بنو مُطَّلِب **(3)** بنو نوفَل **(4)** او بنو عبدِ شمس. زمونږ خوږ آقا مکي مدَني مصطفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قبيلۀ بنو هاشِم نه دے، په دې وجه هغوئي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته رَسُولِ هاشَمي وائي او اِمام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د قبيلۀ بنو مُطَّلِب نه دے، ځکه اِمام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته مُطَّلِبي وئيلے کيږي.[2]

## د امام شافِعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه درې فضائل

اِمام فخرُ الدِّين رازي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: اِمام شافعي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مُطَّلِبي دے، په دې اعتبار سره هغوئي ته ډير فضيلتونه حاصل دي:

---

[1] ...کتاب الثقات لابن حبان، باب الميم، جلد:5، صفحه:406، رقم:2997۔
[2] ...مناقبِ امام شافعی للرازی، صفحه:30و31ملتقطاً۔

**(1)** بنو مُطَّلِب همیشه د دِینِ اسلام مرسته کړې ده، هغوئي په هره موقع د خوږ آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم سره وفاداري کړې ده، په دې وجه د دواړو جهانونو سردار صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائیلي دي: **اِنَّمَابَنُوْ هَاشِمٍ وَ بَنُوْ الْمُطَّلِبْ شَيْئٌ وَاحِد** بیشکه بنو هاشِم او بنو مُطَّلِب یو دي. اِمام رازي رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: څنګه چې د اِمام شافعـي رحمۃُ اللہِ علیہ پلار نیکونه د دِین خدمتګاران وو، دغه شان اِمام شافعـي رحمۃُ اللہِ علیہ هم د دِینِ اسلام ډېر زبردست خدمت کړے دے.[1]

**(2)** اِمام رازي رحمۃُ اللہِ علیہ مخکښې فرمائي: اِمام شافعـي رحمۃُ اللہِ علیہ د خوږ آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم په نسب دے. په دې اعتبار سره هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ هم په"آلِ رسول" کښې شامِل دے. کله چې مونږه لمُونځ ادا کوو نو وایو: **اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی آلِ مُحَمَّد** (اے **الله** پاکه! په محمد صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم باندې او د هغوئي په آل باندې رحمتونه نازل کړې) زمونږ په دې دُعا کښې اِمام شافعـي رحمۃُ اللہِ علیہ هم شامِل دے.[2]

**(3)** په حدیثِ پاك کښې دي: **اِنَّ كُلَّ سَبَبٍ وَ نَسَبٍ يَنْقَطِعُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ اِلَّا مَا كَانَ مِنْ نَسَبِيْ وَسَبَبِيْ**[3] د قیامت په ورځ به هر نسبي او د سخرګنۍ خپلولۍ ختمې شي خو هغه څوک چې زما د نسب او سخرګنۍ خپلوان دي (د هغوئي تعلق به نه ختمیږي) [(4)]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! دا څومره زبردست فضیلت دے. په ورځ د قیامت به چې د نَفسي نَفسـي عالَم وي، مور به د ځوئ نه لرې تښتي، پلار به د

---

1…مناقبِ امام شافعی للرازی، صفحه:30۔

2…مناقبِ امام شافعی للرازی، صفحه:33۔

3…الشریعة للآجری، جلد:5، صفحه:2231، حدیث:1713۔

4…الشریعة للآجری، جلد:5، صفحه:2231، حدیث:1713۔

خپل ځوئ نه ځان خلاصوي، ورور به د وروړ نه تښتي، دوستان ملګري به په خپلو خپلو سوچونو کښې ډوب وي، هغه وخت به نه يوه خپلوي، نه يو نِسبت، او نه يو تَعَلُّق په کار راځي، خو قربان شم د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه! چې د قيامت په ورځ به د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نسب مبارك قائم وي او دا مبارك نسب به د قيامت په سخته ويره کښې په کار راځي.

اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د خوږ رسول صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هَم نَسَبَه دے ځکه به د قيامت په ورځ اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د خوږ نبـي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم لمَن مبارکې سره وابسته وي، د اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه نسب مبارك به هغه وخت هُم قائم وي او د قيامت په سختو کښې به په کار راځي.

## اِمامِ شافعـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د قُريشو عالِم دے

اے عاشِقانِ رسول! قَرَشـي (يعني د قبيلهٔ قُريش سره د نَسَبـي تَعَلُّق) په وجه اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه ته يو بل فضيلت هم حاصل دے، هغه دا چې هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه د قُريشو عالِم دے. د سرکارِ مدينه فرمان مبارك دے: يعني قُريشو ته بد مه وائې! بيشکه په دوئي کښې به يو عالِم زمکه د علم نه ډکه کړي.

دې حديثِ پاك کښې چې د قُريشو قبيلے د کوم عالِمِ دِين ذِکر شوے دے، د دې نه مراد اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه دے، د کروړاؤ حنبليانو پيشوا، اِمام احمد بِن حنبل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه فرمائي: زما نه چې کله هم د څه ديني مسئلے پوښتنه اوکړے شي نو زه د ټولو نه اوَّل هغه مسئله په قرآن و سُنَّت کښې ګورم، که ما ته د هغې مسئلے جواب په قرآن و سُنَّت کښې ميلاؤ نه شي، نو د اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په فرامينو کښې د هغې جواب

ګورم څکه چې اِمام شافعـي رحمۃُ اللہِ علیہ د قُريشو هٔغه عالِم دے چا چې د خپل علم نه زمکه ډکه کړې ده.[1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## څه! اللّٰه پاك دِ تا له بركت دركړې...!

اِمام شافعـي رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: يوه ورځ زه اوده شوم نو قِسمَت مې رابيدار شو، په خوب كښې راته د نوراني ځليدونكي ښكلي مخ مبارک والا خوږ آقا صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم ديدار رانصيب شو، خوږ آقا صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم ما ته اوفرمائيل: يَاغُلَامُ! مِمَّنْ اَنْتَ؟ اے بچيه! ته د كوم قوم نه ئې؟ ما عرض اوكړو: مِنْ رَهْطِكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه! يَـا رَسُولَ الـلّٰـه صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم! زه ستاسو د غلامانو نه يم. په دې خبره خوږ آقا صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم په ما باندې شفقت او مهرباني اوكړه، اوئې فرمائيل: را نِزدې شه! زه ورنِزدې شوم، خوږ آقا صَلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم خپلې لاړې مباركې زما په خُله كښې واچولې او اوئې فرمائيل: اِمْضِ بَارَكَ اللّٰهُ فِيْكَ زه! اللّٰه دِ تا له بركت دركړي.[2]

## مولا علـي ورته ګوتمه عطا كړه

اِمام شافعـي رحمۃُ اللہِ علیہ يو بل د اِيمان نه ډك خوب بيانوي، فرمائي: يو ځل ما خوب اوليدلو چې زه په مَطَاف (يعني مسجدِ حرام كښې د طواف كولو په ځائے) كښې ناست يم، ناڅاپه د يو طرف نه د مسلمانانو څلورم خليفه اَمِيْرُ الْمُؤْمِنِيْن، حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰى رضی اللہ عنہ تشريف راوړو، زه د هغوئي د هر كلي د پاره زر پاڅيدم او د هغوئي د سينے

---

[1]...مناقبِ امام شافعی للبیہقی، جلد:1، صفحہ:54۔
[2]...مناقبِ امام شافعی للرازی، صفحہ:36۔

سره جوخت شوم، بيا حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰى رَضِىَ اللهُ عَنْهُ زما سره لاس ميلاؤ کړو او خپله ګوتمه مبارکه ئې اوويستله او زما په ګوته ئې کړه.

د دې اِيمان افروز خوب ليدلو نه پس په صبا له زه د خوبونو تعبير ښودلو والا خوا ته لاړم، هغه ته مې خپل خوب بيان کړو او د تعبير پوښتنه مې ترينه اوکړه، د خوبونو تعبير بيانوونکي اووئيل: تاسو ته د حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰى رَضِىَ اللهُ عَنْهُ د سينے سره د لګيدو سعادت نصيب شوے دے، دا د دوزخ نه د آزادئ نښه ده، حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰى رَضِىَ اللهُ عَنْهُ تاسو سره لاس ميلاؤ کړے دے، دا د قيامت په ورځ د امان ميلاويدو زيرے دے، او تاسو ته ئې ګوتمه په ګوته کړې ده، دا دې طرف ته اشاره ده چې څنګه د حضرت عَلِـيُّ الْمُرتَضٰى رَضِىَ اللهُ عَنْهُ نوم مشهور دے، داسې به ستاسو نوم مبارك هم مشهور شي.[1]

عَلَّامه بَيهَقِـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: د اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دا خوب واقعي رښتيا ثابت شو، د دې نه څه موده پس اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مشهور شو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير ديني کتابونه اوليکل، چې د هغې په ذريعه د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نوم د لرې لرې پورې خور شو.[2]

## د ګوتمې په ګوته کولو احکام

**اے عاشقانِ رَسُول!** د مسلمانانو څلوم خليفه حضرت مولیٰ علی رَضِىَ اللهُ عَنْهُ د امام شافعی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خوب کښې تشريف راوړلو او هغوئي ته ئې ګوتمه عطا کړه- ګوتمه په ګوته کول په بعضو صورتونو کښې سُنَّت دي خو نن صبا د ګوتمې اچولو په باره کښې ډيره

[1] ...مناقبِ امام شافعی للرازی، صفحه:36۔
[2] ...مناقبِ امام شافعی للبیهقی، جلد:1، صفحه:148۔

بے احتياطي کيږي، ډير ځلمي ځلي [يعني بغير غَمي والا رِنګ] په ګوته کوي، بعضې دوه ودوه ګوتمې په ګوته کوي، بعضو د خپل لاس ټولې ګوتې د ګوتمو نه ډکې کړې وي او بعضې نادان [نارينه] د سرو زرو ګوتمه هُم په ګوته کوي، ياد ساتئ! نارينه صرف د سپينو زرو د څلور ماشے (يعني 4ګرامه او 174 ملی ګرامه) نه د کم وزن، د يو غمي والا صرف يوه ګوتمه په ګوته کولے شي- ❁ نارينه له د سرو زرو ګوتمه اچول حرام دي- ❁د اوسپنې ګوتمه د دوزخيانو کالے دے- ❁ د يو نه زيات غمو والا ګوتمه اکثر که هغه د سپينو زرو وي د نارينه د پاره ناجائزه ده- ❁ بغير غمي والا ګوتمه اچول هُم ناجائزه دي ځکه چې هغه ګوتمه نه ده ځلے [يعني هسې رِنګ] دے-(1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د اِمامِ شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه اعلٰی اوصاف

اے عاشِقانِ رسول! اِمام مُحَمَّد بِن ادريس شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه چې څنګه په عِلم کښې اوچته مرتبه لري هغسې په عمل کښې هم اوچت شان لري، راځئ چې د اِمام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه يو څو اعلٰی اوصاف واورو:

## اِمامِ شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه او د تلاوت شوق

حُجَّةُ الاسلام اِمام مُحَمَّد بِن مُحَمَّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه ليکي: اِمام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه شپه په دريو حِصَّو کښې تقسيم کړې وه: يوه حِصّه د عِلمِ دين د پاره، يوه حِصّه د لمونځ د پاره او يوه حِصّه د آرام د پاره.[2]

---

1...550 سنتيں اور آداب، صفحہ: 57-58 ملتقطاً۔
2...احياء علوم الدين، کتاب العلم، جلد: 1، صفحه: 40۔

د حضرت ربيع رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ بيان دے چې اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ به هره ورځ يو قرآنِ كريم ختمولو.[1] په رَمَضَانُ المُبارك كښې به د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ د تلاوت شوق نور هم زياتيدلو، هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ به په رَمَضَانُ المُبارك كښې په نوافِلو كښې 60 ځل د قرآنِ پاك ختم كولو.[2]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! لږ غور اوكړئ! اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ معمولي انسان نه وو، هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ باقاعده مُجتهِد و مُفتـي وو، خلقو به د هغوئي نه فتوے اخستلې او هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ به خلقو ته جوابونه وركول، ډير لوئ عالِمِ دِين وو، د لرې لرې نه به خلق د هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ په خدمت كښې حاضريدل او علمِ دين به ئې زده كولو. د دومره مصروفياتو باوُجود به هغوئي رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ د قُرآنِ كريم د تلاوت د پاره وخت اوباسلو.

مونږ له هُم لږ غور كول پكار دي چې! آيا مونږه هم د تِلاوت د پاره وخت اوباسو؟ په مونږه كښې دِ هر يو په خپل زړه كښې غور اوكړي چې قُرآنِ كريم زمونږ د خوږ الله پاك كلام دے، هغه كريم ربّ كوم چې مونږ ته رزق راكوي، كوم چې زمونږه پالونكے دے، مونږ ته په زرګاؤ نِعمَتونه راكوي، آيا مونږه د خپل هغه ربِّ كريم د كلامِ پاک تلاوت كوو؟ څومره ورځې اوشوې چې تلاوت مو كړے دے؟ زمونږ د ټولو په كورونو كښې به يقيناً قُرآنِ مجيد موجود وي، دا پاك كتاب مونږه څو ورځې پس راخلو او وايُو؟ خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! دا ډيره د سوچ او فِكر خبره ده، ډيره د افسوس خبره ده چې مونږ سره د موبائل فون د پاره وخت شته، د سوشل ميډيا د پاره راسره وخت شته، دُنياوي مال او دولت ګټلو د پاره راسره وخت شته، د سيل د پاره

---

[1] …تاريخ بغداد، محمد بن ادريس شافعي، جلد:2، صفحه:61۔

[2] …احياء علوم الدين، كتاب العلم ، جلد:1، صفحه:40۔

راسره وخت شته خو افسوس! مونږ ته د خپل رب تعالیٰ د کلام يعني قرآنِ کريم لوستلو د پاره څو څو ورځې، څو څو هفتے بلکه څو څو مياشتې وخت نه ملاويږي، بلکه د وخت نه ميلاويدو به څه ګيله اوکړو، مونږ ته خو ياد هم نه وي چې ګنې مونږ به تلاوت هم کوو، مونږه په خپلو اعمالو کښې تلاوت شامل کړے نه دے. **الله** پاک دِ مونږه د قرآنِ مجيد د تلاوت کولو شوقين جوړ کړي---!

## د قرآنِ پاک د تلاوت فضائل

❀تلاوتِ قرآن د دې اُمَّت افضل عبادت دے[1] ❀د قرآنِ پاک يو حَرف وئيلو باندې د 10 نيکو ثواب ملاويږي ❀په کوم کور کښې چې د قرآنِ پاک تلاوت کيږي هغه کور د خپلو اوسيدونکو د پاره فراخه شي- ❀په هغه کور کښې خيرونه ډير شي ❀هغه کور ته فرښتے راځي ❀د هغه کور نه شيطانان اُوځي-[2] ❀قرآنِ کريم به په ورځ د قيامت د خپل لوستونکي شَفاعت کوي[3] ❀ د قرآنِ کريم تلاوت کوونکو ته به **الله** پاک د شُکر ګُزارو د ثواب نه غوره [ثواب] ورکوي- [4] ❀اَهلِ قرآن (يعني د دې تلاوت کوونکي او د دې په احکاماتو عمل کوونکي) **الله** والا دي او د **الله** پاک خاص خلق دي[5] ❀څوک چې په لـمانځه کښې په ولاړه د قرآنِ کريم تلاوت اوکړي د هغه د پاره د هر حَرف په بدله کښې 100 نيکئ دي- ❀ څوک چې په ناسته تلاوت اوکړي د هغه د پاره د هر حَرف په بدله کښې 50 نيکئ دي- ❀څوک چې د لـمانځه نه علاوه په

---

1...شعب الايمان، جلد:2، صفحه:354، حديث:2022-
2...احياء العلوم، جلد:1، صفحه:826-
3...مسلم، کتاب فضائل القرآن، صفحه:402، حديث:804-
4...کنز العمال، جلد:1، صفحه:273، حديث:2437 ماخوذاً-
5...ابن ماجه، صفحه:48، حديث:215-

اوداسه کښې تلاوت اوکړي د هغه د پاره 25 نيکئ دي[1] ❁تلاوتِ قرآن د زړونو د صفائي ذريعه ده-[2] **الله** پاک دِ مونږ ته د قرآنِ مجيد د تلاوت کولو شوق رانصيب کړي---!

تلاوت کی توفیق دیدے اِلٰہی! | گُناہوں کی ہو دُور دِل سے سیاہی

اٰمِين بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِيّيْن صَلَّی اللہُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د ټولو مسلمانانو په حق کښې به ئې دُعا کوله

حضرت حَسَن رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: ما ته ډير ځله اِمام شافعـي رحمۃُ اللہِ علیہ سره د شپے تيرولو سعادت نصيب شوے دے. هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ به د شپے دريمه حِصّه لمُونځ ادا کولو، معمول مبارك ئي دا وو چې کله به ئې په لمَانځه کښې 50 آيتونه تلاوت کول او کله به ئې 100 آيتونه تلاوت کول. د تلاوت کولو انداز ئې دا وو چې کله به رحمت والا آيتونو ته اورسيدلو نو د **الله** پاك په بارګاه کښې به ئې د خپل ځان او ټولو مسلمانانو د پاره د رحمت دُعا کوله او چې کله به ئې عذاب والا آيتونه لوستل نو د هغې نه به ئې پناه غوښتله او د خپل ځان او ټولو مسلمانانو د پاره به ئې د نجات دُعا کوله.[3]

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! دا شرعِي مسئله ياده ساتئ چې که څوک نفل لـمونځ يواځې کوي نو رحمت ولا آيتونو باندې د رحمت ملاويدلو او عذاب والا آيتونو

---

1...احیاء العلوم، جلد:1، صفحہ:366۔

2...شُعب الایمان، جلد:2، صفحہ:252، حدیث:2014ماخوذاً۔

3...تاريخ بغداد، محمد بن ادريس شافعي، جلد:2، صفحه:61۔

باندې د عذاب نه د حفاظت دُعا کول جائز دي. په فرضو لـمونځونو کښې د تلاوت په دوران کښې داسې دُعاګانې کول منع دي.[(1)]

## د حضرت اِبراهيم عَلَيْهِ السَّلَام يوه مبارکه دُعا

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د اِمام شافعـي رحمۃ اللہ علیہ د پاك سيرت خومره ښکلے او خوږ وصف دے چې هغوئي رحمۃ اللہ علیہ به صرف خپل ځان ته دُعا نه کوله بلکه د ټولو مسلمانانو د پاره به ئې دُعا کوله. دا د **اللّٰه** پاك د خليل حضرت ابراهيم عليهِ السّلام مبارکه طريقه ده، **اللّٰه** پاك په قرآنِ کريم کښې د حضرت ابراهيم خليلُ اللّٰه عليهِ السّلام يوه دُعا د هغوئي په الفاظو کښې بيان کړې ده.

| | |
|---|---|
| رَبَّنَا اغْفِرْ لِيْ وَ لِوَالِدَيَّ وَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ يَوْمَ يَقُوْمُ الْحِسَابُ ﴿۴۱﴾ (پارہ13، سورۂ ابرٰھیم:41) | [مفهوم] ترجمۂ کَنْزُ الایمان: اے زمونږه ربه ما اوبخښې او زما مور او پلار [اوبخښې] او ټول مسلمانان [اوبخښې] په کومه ورځ به چې حساب قائميږي. |

## په دُعا کښې سستي مه کوئ...!

اے عاشِقانِ رسول! دُعا بهترين عبادت دے، په حديثِ پاك کښې ارشاد دے: اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ دُعا د عبادت زړے دے.[2] د دُعا يوه بهترينه فائده دا هم ده چې دُعا د مفتو نيکي ده، په دې باندې څه روپۍ نه خرچ کيږي، څه محنت پرې نه کيږي، بس د زړه د

---

1 ...بہار شریعت، حصّہ: 3، جلد: 1، صفحہ: 548۔
2 ...ترمذی، کتاب الدعوات، صفحه: 777، حديث: 3371۔

توجه او د ژبې د حرکت ضرورت دے، د ژبې خوزولو نه بغير په زړه کښې هُم دُعا غوښتے شئ.

خو دا ليدلے کيږي چې زمونږه خلق د دُعا په مُعامَله کښې د سستئ نه کار اخلي، ❀اوس په خپل حق کښې هُم دُعا غوښتونکي ډير کم دي، څوک چې لمُونځونه کوي، دِيني ذِهن لري، صرف هغوئي عام طور دُعا طرف ته توجه کوي، ❀کٔني ډير خلق داسې دي چې مشکلات ورته پيښ شي، په پريشانئ کښې اخته شي، بيمار شي، قرض دار شي نو نور اسباب ګوري خو دُعا نه غواړي، حالانکه په حديثِ پاك کښې دُعا ته د مُومِن وسله وئيلے شوې ده.[1] ❀بيا چې کوم خلق دُعا غواړي، په هغوئي کښې هُم ډير خلق داسې دي چې خپل ځان ته دُعا کوي خو د نورو مسلمانانو د پاره دُعا نه کوي. مونږ له پکار دي چې مونږه د خپل ځان د پاره هم ډيرې ډيرې دُعا ګانې اوکړو او نور خلق هم په خپلو دعاګانو کښې لازمي يادوو، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیْم!د دې به بے شميره برکتونه به رانصيب شي.

## د نورو خلقو د پاره د دُعا کولو ثواب

د اعلٰـی حضرت رحمۃُ اللہِ علیہ والِدِ محترم حضرت مولانا نقـي علي خان رحمۃُ اللہِ علیہ د دُعا آداب بيانوي، فرمائي: بنده چې کله د خپل ځان د پاره دُعا غواړي نو په هغې کښې دِ ټول اهلِ اسلام شريك کوي (يعني د ټولو مسلمانانو نارينؤ او زنانؤ د پاره دِ هم دُعا کوي).

---

1 ...مستدرک، کتاب الدعاء والتکبير، جلد:2، صفحه:162، حديث:1855۔

اعلٰـی حضرت رحمۃ اللہ علیہ د دې ادب وضاحت كولو كښې فرمائي (د هغې خُلاصه ده): د ټولو مسلمانانو په حق كښې د دُعا كولو حكمت دا دے چې دُعا غوښتونكے بنده كه پخپله د دې قابل نه وي چې د هغه دُعا قبوله شي نو دا به د مسلمانانو بندګانو په بركت خپل مراد ته اورسيږي. د حضرت ثابت بُنَانـي رحمۃ اللہ علیہ نه روايت دے: مونږ ته ذِكر كړے شوي وو چې كوم كس د مسلمانانو نارينؤ او زنانؤ د پاره دُعائے خير كوي، د قيامت په ورځ چې كله د هغوئي په خوا تيريږي نو يو وئيوونكے به اووائي: دا هغه [انسان] دے چا به چې په دُنيا كښې تاسو ته دُعائے خير كوله، بس هغه مسلمانان به د هغه شفاعت اوكړي او جَنَّت ته به ئي بوځي.[1]

❁ يو كس داسې دُعا كوله: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي (يا الله پاكه! ما اوبخښې). زمونږ خوږ آقا صَلَّى الله عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د هغه دا دُعا واوريدله نو اوئې فرمائيل: كه عامه (يعني نورو مسلمانانو د پاره دِ هم دُعا) كړې وے نو ستا دُعا به قبوله شوې وے.[2] ❁ په حديثِ پاك كښې دي: زمونږ خوږ آقا صَلَّى الله عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: كوم كس چې د مسلمانانو نارينؤ او زنانؤ د پاره د بخښنې دُعا اوكړي، الله پاك به د هغه د پاره د هر مسلمان نارينه او زنانه په بدله كښې يوه نيكي اوليكي.[3]

سُبْحٰنَ اللّٰه! اے عاشِقانِ رسول! خوشحاله شئ! په اربونو نيكئ ګټلو نُسخه په لاس راغله، يقيناً د حضرت آدم عَلَيهِ السَّلَام نه واخله تر دې وخته پورې په اربونو مسلمانان دُنيا ته راغلي دي او په كروړونو اوس هُم په دې دُنيا كښې موجود دي، كه مونږه تَـوَجُّه اوكړو او د ټولو مسلمانانو د پاره د بخښنې دُعا اوكړو نو د الله پاك په رحمت سره

---

[1] …فضائلِ دُعا، صفحه:86۔

[2] …ردّالمحتار، كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، مطلب فى الدعاء، جلد:2، صفحه:286۔

[3] …جامع صغير، صفحه:513، حديث:8419۔

به د اربونو کربونو نيکو حقدار جوړ شو او وخت څومره لګي؟ يو څو سيکنډه. که اوغواړئ نو د هر لمَانځه نه پس بلکه ټوله ورځ وخت په وخت دا دُعا کوئ:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِي وَلِكُلِّ مُؤْمِنٍ وَّ مُؤْمِنَةٍ

(يا الله پاکه! ما او هر مسلمان نارينه او زنانه اوبخښې)

بهتره دا ده چې دا دعا په عربئ کښې ياده کړے شي او وخت په وخت ئې وائي، کنې په خپله مورنئ ژبه (مَثَلًا پښتو، پنجابي، هِندکو وغيره) کښې هُم دا دعا کولے شئ چې يا **الله** پاکه! زما او د هر مسلمان نارينه او زنانه بخښنه اوکړې- اٰمِين بِجَاهِ خاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

**الله** پاك دِ مونږ ټولو له د ځان د پاره او د ټولو مسلمانانو د پاره هم د ډيرو دُعاګانو غوښتلو توفيق را عطا کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د اِمامِ اعظم رحمۃ اللہ علیہ د مزار مبارك برکت

اے عاشِقانِ رسول! د دُعا غوښتلو مُتَعَلِّق د اِمام شافعي رحمۃ اللہ علیہ يو ډير ښکلے او خوږ انداز دا هم وو چې هغوئي رحمۃ اللہ علیہ به د اوليائے کرامو زيارتونو ته حاضريدلو او [د هغوئي په وسيله] به ئي دُعا کوله. اِمام شافعي رحمۃ اللہ علیہ پخپله ارشاد فرمائي: چې کله ما ته څه سخته راپيښه شي نو زه دوه رکعته لمُونځ ادا کړم او د اِمامِ اعظم ابوحنيفه رحمۃ اللہ علیہ مزار مبارك ته حاضر شم او دُعا اوغواړم نو **الله** پاك زما سخته اسانه کړي.[1]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليدل! د دويمې صدئ هجرئ د مُجَدِّد، عالِمِ قُريش حضرت اِمام شافعي رحمۃ اللہ علیہ هم دا عقيده وه چې د اوليائے کرامو علیهم

---

[1] …فضائل دعا، صفحه:136۔

الرَّحمۃ زیارتونو ته حاضریدلو سره مشکلات حل کیږي، د اولیائے کرامو علیہم الرَّحمۃ زیارتونو ته حاضریدلو سره دُعاګانې زر قبليږي.

## اِمامِ شافِعِي رحمۃُ اللہِ علیہ ډیر زیات سخي وو

اے عاشِقانِ رسول! د حضرت اِمام شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ یو بل پاك او ښکلے صفت دا هم دے چې هغوئي رحمۃُ اللہ علیہ ډیر سخي وو، په زرګاؤ روپۍ به ئې په خوشحالۍ خوشحالۍ په غریبانو خرچ کولې. حضرت حُمَیدِی رحمۃُ اللہ علیہ فرمائي: یو ځل اِمام شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ د خپل یو کار په سلسله کښې یمَن ته تشریف یوړلو، چې کله بیرته مکّے مُکَرَّمے ته راغلو نو هغوئي رحمۃُ اللہ علیہ سره لس زره درهمه (یعني د سپینو زرو سکے)- وې- هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ د ښار نه بهَر خیمه اولګوله، خلق به د هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ په خدمت کښې حاضریدل او هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ به هغه خلقو ته مال عطا کولو، چې کله د خیمے نه بهَر ته را اووتلو نو ټول مال (یعني لس زره د سپینو زرو سکے) ئې د **اللّٰه** په لاره کښې تقسیم کړې وې.[1]

## د مَهَر رَقم ئې ادا کړو

حضرت ربیع رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي: چې کله زما نِکاح اوشوه نو حضرت اِمام شافعي رحمۃُ اللہِ علیہ زما نه تپوس اوکړو: حق مَهَر څومره مقرر شوے دے؟ ما عرض اوکړو: 30 دیناره. هغوئي رحمۃُ اللہ علیہ بیا تپوس اوکړو: په دې کښې دِ څومره ادا کړے دے؟ ما عرض اوکړو: 6 دیناره. دا تپوس ئې رانه اوکړو او تشریف ئې یوړلو، وروسته ئې یوه تهیلۍ را اولیږله، په هغې کښې پوره 24 دیناره وو [یعني د سرو زرو سِکّے وې]. یعني د

---

[1] ...تاریخ مدینه دمشق، جلد:51، صفحه:401۔

مَهَر باقي رَقم کوم چې د حضرت ربيع رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په ذِمه لازم وو، هغوئي غوښتلے هم نه وو، اِمام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بغير د غوښتلو نه هغه رقم هغوئي ته ورکړو.[1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! دا سخاوت دے....! چې اِمام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ترينه پخپله تپوس اوکړو چې د مهر څومره رقم دِ په ذِمَّه پاتې دے؟ بيا د معلوميدو نه پس ئې صرف تَسَلِّي ورنکړه بلکه پخپله ئې هغه رقم هُم ورکړو. الله پاك دِ مونږ ته هم د سخاوت کولو توفيق راکړي. کاش چې زمونږ د زړونو نه د مال محبت اوځي، يقين اوکړئ! زمونږه زړونه د مال د حرص نه ډك دي، چې د جيب نه روپئ را اوباسو نو زړه مو خوګيږي، غريب کس ته د غټ نوټ ورکولو هِمَّت نه کوو، که دا حرص مو ختم شي نو مونږه به هم د الله پاك په لاره کښې [مال] تقسيموونکي جوړ شو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! الله پاك به د خپلو خزانو نه مونږ ته فراخه رزق راکړي. الله پاك مونږ ته د دې توفيق راکړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د مذاق کوونکي د پاره دُعائے خير کول...!

يو ځل امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په يو درزي قميص اوګنډلو- درزي امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پيژندلو، هغه د ټوقې د پاره يو لستوڼے ډير تنګ کړو او بل ئې دومره کهلاؤ کړو چې په هغې کښې سر هم ننوتلے شو- د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې چې کله قميص وړاندې کړے شو نو هغوئي اوفرمائيل: الله پاك! دِ تا له جزائے خير درکړي! تنګ لستوڼے د اودس د پاره اوچتول آسان دي او کهلاؤ لستوڼے د کتاب ايښودلو د پاره مناسب دے- هغه وخت د خليفهٔ وخت قاصد لس زره درهمه راوړل او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې ئې پيش کړې- درزي هُم هلته موجود وو، امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه

1 ...شُعب الايمان، باب في الجود والسخاء، جلد:7، صفحه:452، حديث:10962۔

قاصِد ته ارشاد اوفرمائيلو: درزي ته د جامو ګنډلو پيسے ورکړه- درزي حيران شو چې دا کومه هستي ده چې د خليفۀ وقت قاصد ورته رقم راوړلو، نو درزي د قاصد نه د هغوئي په حقله پوښتنه اوکړه، قاصد اُووئيل چې: دا خو امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه دے- درزي چې دا واوريدل نو د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې ورمخکښې شو او د هغوئي ښپې ئې ښکل کړې او معذرت ئې اوکړو او بيا ئې د امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په خدمت کښې اوسيدل شروع کړل. (1)

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** تاسو اوليده چې امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د څومره اوچتو اخلاقو مالک وو چې درزي ورله د توقې په طور کپړې خرابې کړې وې خو هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په دې کښې هُم ښه ډېره راوِيستله او درزي ته ئې دعائے خير اوکړې-

## د حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها حکايت

د حضرت سُفيان ثوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې په بصره کښې يو کس د زنا په سزا کښې په دار رازوړند کړے شوے وو، حضرت رابعه بصريه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها د هغه په خوا تيريدله نو اوئې فرمائيل: دا هُم هغه ژبه ده په کومه چې به تا "لَآاِلٰـهَ اِلَّا الـلّٰـهُ" وئيل. 2

**اے عاشِقانِ رسول!** تاسو اوليدل! يو کس چې د ګناهِ کبيره په سزا کښې پهانسي ورکړے شوې وه، حضرت رابعه بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْها د هغه د بدئ ذِکر اونکړو بلکه د هغه په ذات کښې ئې ښه وصف ته اوکتل او د هغې ذِکر ئې اوکړو. کاش چې مونږه هم مُثبَت سوچ اختيار کړو، په ښه نظر د کتلو، د ښو خبرو اوريدلو او د ښو خبرو کولو عادت جوړ کړو ځکه چې بدې خبرې د بد زړه دليل دے.

---

1 ...حکايتيں اور نصيحتيں، صفحه: 398۔

2 ...طبقات الصوفية، ذكر النسوة المتعبدات الصوفيات، رابعة العدوية، صفحه:389۔

# اِمام شافِعِـي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خاموش طبيعته وو

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د ژبې احتياط د حکمت او عقلمندئ بنياد دے. په حديثِ پاك کښې دي: تاسو چې څوك داسې اووينئ چې هغه ته د خاموشئ نِعمَت عطا شوے وي نو د هغه صُحبت اختيار کړئ ځکه چې داسې بنده ته حکمت ورکولے کيږي.[1]

اِمام شافعـي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هُم د ژبې په احتياطونو کښې اعلٰـی مهارت لرلو. شايد هُم دا وجه وه چې الله پاك هغوئي ته حکمت او دانائي عطا کړې وه. يو ځل اِمام شافعـي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه د مسئلے تپوس اوشو، هغوئي خاموشه پاتې شو، څه جواب ئې ورنکړو. عرض اوکړے شو: تاسو ولے خاموشه پاتې شوئ؟ جواب مو ولے ورنکړو؟ اوئې فرمائيل: ما دا سوچ کولو چې په جواب ورکولو کښې خير دے او که په خاموشه پاتې کيدو کښې [خير دے].[2]

مَاشَآءَ الله! څومره د حکمت نه ډکه خبره ده، د اِمام محمد بِن محمَّد غزالي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د فرمان خُلاصه ده چې د اِمام شافعـي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دې مبارك انداز نه دوه خبرې معلومې شوې: **(1)** **يوه خبره** دا چې اِمام شافعـي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به د خبرې کولو نه مخکښې سوچ کولو، **(2)** **دويمه** دا چې اِمام شافعـي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به په خبرو کښې په فضل او ثواب باندې نظر ساتلو، که په خبره کښې به بهترې وه او د ثواب صورت به جوړيدو نو کلام به ئې کولو، کنې خاموشه به پاتې کيدلو.

---

1 …ابن ماجه، کتاب الزہد، باب الزہد فی الدینا، صفحه:667، حديث:4101۔

2 …احياء علوم الدين، کتاب العلم، جلد:1، صفحه:40۔

# د جَنَّت ضمانت

**کاش** چې مونږ ته هم خبرې نه مخکښې د سوچ کولو عادت را نصيب شي، ګنې حالت ډير نازك دے، مونږه چې خبرې شروع کړو نو بيا خاموشه کيږو نه، مونږه په خبرو خبرو کښې غِيبَت، چغلـي، دروغ، تور لګول او قِسما قِسَم ګناهونه کوو خو مونږ خبر هُم نه شو، **الله** پاك دِ مونږ ته د ژبې د حفاظت فِکر رانصيب کړي.

زمونږ خوږ آقا صَلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم ارشاد فرمائي: څوك چې ما ته د دوو جامنو د مينځني څيز (يعني د ژبې) او د دوو ښپو د مينځني څيز (يعني د شرمګاه) ضمانت راکړي، زه هغه ته د جنَّت ضمانت ورکووم ....[1]

**حکيمُ الاُمَّت** حضرت مفتی احمد يار خان رحمۃُ اللہِ علیہ د دې حديثِ پاك لاندې فرمائي: مطلب دا دے چې څوك خپله ژبه د دروغو، غِيبَت او ناجائزه خبرو نه بچ ساتي او بدکارئ ته نه نِزدې کيږي (نو مالِکِ جَنَّت، قاسِمِ نِعمَت صَلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم هغه ته د جنَّت ضمانت ورکوي) مفتـي صاحب رحمۃُ اللہِ علیہ مخکښې فرمائي: (کوم بنده چې د خپلې ژبې او شرمګاه حِفاظَت کوي نو) ښکاره خبره ده چې داسې مسلمان مُومِن به مُتَّقـي [پرهيزګاره] وي. ياد ساتئ چې! تقريباً اتيا فيصده ګناهونه د ژبې نه کيږي.[2]

اے عاشِقانِ رسول! اندازه اولګوئ! ژبه څومره اهم اندام دے چې کوم بنده د ژبې حفاظت اوکړي، ژبه د ګناهونو نه بچ کولو کښې کامياب شي او د دې سره سره د زنا،

---

1 ...بخاری، کتاب الرقاق، صفحه:1591، حديث:6474۔
2 ...مرآۃالمناجيح، جلد:6، صفحه:447ملتقطاً۔

بدکارئ نه هُم ځان بچ اوساتي نو نبـي کريم صلَّی اللہ علیہِ والہٖ وسلَّم هغه ته د جنَّت ضمانت ورکړے دے.

## فُضُول خبرې بنده غلام جوړوي

اِمام شافعـي رحمۃُ اللہِ علیہ خپل دوست حضرت ربيع ته اوفرمائيل: اے ربيع! فُضُول خبرې مه کوه ځکه چې ته کله خبره اوکړې نو هغه خبره به په تا حاکِم جوړه شي او ته به د هغې غُلام جوړ شې.[1]

## د خبرې کولو نه مخکښې سوچ اوکړه...!

يو ځل اِمام شافعـي رحمۃُ اللہِ علیہ اوفرمائيل: چې کله ته څه خبره کوې نو مخکښې په هغې غور کوه! که تا ته څه فائده ښکاره شي نو خبره کوه او که ته په حيرانتيا کښې پريوځې (چې د دې په وئيلو کښې څه بهتري شته او که نشته) نو خاموشه پاتې شه.[2]

اللہ پاك دِ مونږ ټولو ته د ژبې احتياط رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّی اللہ علیہِ والہٖ وسلَّم

## د اِمام شافِعـي رحمۃُ اللہِ علیہ صحابۀ کرامو علیھم الرِّضوان سره مينه

اے عاشِقانِ رسول! د اِمام شافعـي رحمۃُ اللہِ علیہ يو بل ښکلے صفت دا دے چې هغوئي رحمۃُ اللہِ علیہ به د صحابۀ کرامو علیھم الرِّضوان او اهلِ بيتو سره ډير مينه کوله، وخت په وخت د صحابۀ کرامو علیھم الرِّضوان او اهلِ بيتو فضائل بيانول، ځوك چې د هغوئي سره بُغض لري د هغوئي نه ځان بچ ساتل او د صحابۀ کرامو علیھم الرِّضوان او اهلِ بيتو په

---

1 ...المستطرف فی کل فن مستطرف، باب الثالث عشر، جلد:1، صفحه:82۔
2 ...المستطرف فی کل فن مستطرف، باب الثالث عشر، جلد:1، صفحه:81۔

مُعامَله کښې د حق نه لرې کيدونکو ته د نيکۍ دعوت ورکول او هغوئي پوهه کول د اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللہِ عَلَيه په عادتونو کښې شامِل وو، يو ځل اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللہِ عَلَيه د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوان په فضائلو کښې اوفرمائيل: ❀صحابهٔ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوان هغه مبارکې هستۍ دي چې د هغوئي ستائنه د ټولو جهانونو ربّ **الله** پاك کړې ده، ❀صحابهٔ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوان هغه [مُعَزَّزې هستۍ] دي چې په قرآنِ کريم، تورات او انجيل کښې د هغوئي منقبتونه ذِکر دي، ❀صحابهٔ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوان هغه [مُعَزَّز شخصيات] دي چې د **الله** پاك محبوب نبـي صَلَّى اللہ عَلَيهِ واٰلِهٖ وسَلَّم د هغوئي فضائل بيان کړي دي، ❀صحابهٔ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوان د وحـي نازليدو ګواه دي، ❀صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوان مونږ ته دا دِين را رسولے دے، ❀بيشکه صحابهٔ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوان زمونږ نه زيات د عِلم خاوندان و، ❀صحابهٔ کرام عَلَيهِمُ الرِّضوان په هر عِلم کښې زمونږ نه اوچتې مرتبے والا دي، ❀د صحابهٔ کرامو عَلَيهِمُ الرِّضوان دا شان دے چې په کومه خبره مُتَّفِق شي نو هغه خبره په دِين کښې دليل جوړه شي او که صرف يو صحابـي کومه خبره اوکړي نو د هٰغه خبرې د مُخالف کولو په هيڅ چا کښې هِمَّت نه وي، صرف د يو صحابـي فرمان هم زمونږ د پاره دليل دے.[1]

## د اِمام شافِعـي رَحْمَةُ اللہِ عَلَيه اهلِ بيتو سره مينه

دغه شان اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللہِ عَلَيه د اهلِ بيتِ اَطهار عَلَيهِمُ الرِّضوان سره د مينې اظهار کوي، فرمائي:

يَا آلَ بَيْتِ رَسُوْلِ اللّٰهِ حُبُّكُمُ　　　　فَرْضٌ مِّنَ اللّٰه فِي الْقُرْآنِ اَنْزَلَهُ

---

1 …مناقبِ امام شافعی للرازی، صفحہ:136۔

يَكْفِيْكُمْ مِنْ عَظِيمِ الْفَخْرِ اَنَّكُمْ | مَنْ لَمْ يُصَلِّ عَلَيْكُمْ لَا صَلَاةَ لَهُ[1]

**وضاحت:** اے اَهلِ بيتِ كرام! ستاسو محبت **الله** پاك په قرآنِ كريم كښې فرض ګرځولے دے. ستاسو د پاره هُم دا فخر پوره دے چې تر څو پورې په تاسو باندې دُرُود شريف اونه لوستے شي، لمُونځ نه مكمل كيږي.

ياد ساتئ چې د امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په نزد په لمانځه كښې درود شريف وئيل فرض دي او زمونږ د امام اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په نزد سُنَّت دي نو كه چا په لمانځه كښې درود اُونه وئيلو نو د امام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په نزد د هغه لمونځ اُونه شو او د مام اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه په نزد لمونځ اوشو خو د سُنَّتو پريښودلو په وجه په لمونځ [يعني ثواب] كښې كمے راغلو۔

## د اِمام شافِعي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيه نصيحتونه

حضرت عبدُالله بِن مُحَمَّد رَحْمَةُ الله عَليه فرمائي: زه د اِمام شافعي رَحْمَةُ الله عَليه سره د بَغداد په يوه علاقه كښې ووم، هغوئي رَحْمَةُ الله عَليه يو ځلمے اوليدو چې اودس ئې په صحيح طريقه نه كولو، اِمام شافعي رَحْمَةُ الله عَليه هغه ته د نيكئ دعوت وركولو كښې اوفرمائيل: اے ځلميه! اودس صحيح كړه، **الله** پاك به په دُنيا او آخرت كښې په تا احسان اوفرمائي. اِمام شافعي رَحْمَةُ الله عَليه دا اوفرمائيل او مخكښې ئې تشريف يوړلو، هغه ځلمي چې د عِلم خبره واوريدله نو اودس ئې مكمل كړو او په اِمام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَليه پسې شا ته شا ته حاضر شو. اِمام شافعي رَحْمَةُ اللهِ عَليه د هغه نه تپوس اوكړو: آيا ما سره دِ څه كار دے؟ ځلمي عرض اوكړو: آؤ! ما ته هم عِلم زده كړئ. اِمام شافعي

[1] …ديوان امام شافعي، صفحه:142۔

رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اوفرمائيل: پوهه شه! چا چې د **اللّٰه** پاك مَعرِفَت حاصل كړو، هغه خلاصے اوموندلو، څوك چې د دِين په مُعامَله كښې اُويَريدو هغه د تباهئ نه بچ شو، چا چې د دُنيا نه ډډه اختيار كړه په ورځ د قيامت چې كله هغه د **اللّٰه** پاك په بارګاه كښې حاضر شي نو ستركې به ئې يخې شي [يعني په اجر ملاويدو به خوشحاله شي]، اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور اوفرمائيل: په كوم انسان كښې چې درې صفتونه جمع شي، د هغه اِيمان مكمل شي: **(1)** څوك چې د نيكئ دعوت وركوي او پخپله هُم پرې عمل كوي **(2)** څوك چې د بدئ نه منع كوي او پخپله ترينه هم ځان بچ ساتي **(3)** او څوك چې د اللّٰه د حدونو حِفاظَت كوي. بيا ئې اوفرمائيل: د دُنيا نه ډډه اوكړئ او د آخرت شوق لرونكـي جوړ شئ! په خپل هر كار كښې **اللّٰه** پاك سره د رښتياؤ مُعامَله كوه! كه داسې اوكړې نو د نجات موندونكـو نه به شې.[1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼړو! دا څومره د سبق نه ډك نصيحتونه دي. **اللّٰه** پاك دِ مونږ ټولو ته په دې نصيحتونو باندې د عمل كولو توفيق راكړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د سيرت اِمام شافعـي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې اِيمان افروز واقعے نه دا وصف ظاهريږي چې هغوئي به د نيكئ د دعوت وركولو ډير حرص لرلو. اوګورئ! هغوئي چې كله يو كس په اوداسه كښې په غلطئ كولو اوليدلو، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه باقاعده هغه ته د زده كولو د پاره نه وو ورغلي بلكه صرف د هغه په خوا تيريدلو، خو بيا ئې هم هغه كس ته په صحيح طريقه سره د اودس كولو ترغيب وركړو، معلومه شوه چې څوك مُبَلِّغ وي، هغه په هر ځائے كښې په هر حال كښې مُبَلِّغ وي، د نيكئ دعوت عام كولو كښې دا ضروري نه ده چې مونږه صرف علاقائي دوره كښې د نيكئ دعوت وركړو، يا چې كله

---

1 ...احياء علوم الدين، كتاب العلم، جلد:1، صفحه:41۔

په مدني قافِله کښې په سفر يُو نو هله به د نيکۍ دعوت ورکوو بلکه مونږ له پکار دي چې په هر حال کښې بدي اووينو، په حکمتِ عملۍ سره او ښو اَخلاقو سره د نيکۍ دعوت ورکړو او د بدۍ نه منع اوکړو. اوګورئ! اِمام شافعـي رحمۃ اللہ علیہ څومره ښکلے نصيحت فرمائيلے دے: **کوم بنده چې ېځپله نيکي کوي او نورو ته د نيکۍ دعوت ورکوي، ېځپله د ګناهونو نه بچ کيږي او نورو ته د بچ کولو حکم کوي او کوم بنده چې د اللّٰه پاك د حدونو او د هغه د احکاماتو حفاظت کوي، د هغه بنده اِيمان به کامل شي.**

اللّٰه پاك دِ مونږ ټولو ته د نيکۍ دعوت عام کولو، د ګناهونو نه د بچ کيدو او د نورو د بچ کولو توفيق را عطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم

## 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار "علاقائي دوره"

اے عاشقانِ رسول! د نيک لـمونځ ګُزاره جوړيدلو، د صحابه کرامو او اهلِ بيتِ کرامو مَحبَّت په زړه کښې زياتولو او د نيکۍ دعوت عام کولو د پاره د عاشِقان رسول دِيني تحريك دعوتِ اسلامي ديني ماحول کښې شامل شئ او 12 ديني کارونو کښې عَمَلًا حِصَّه واخلئ. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د دِين او دُنيا بے شميره برکتونه به درنصيب شي، 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار "**علاقائي دوره**" هم ده.

## غير مُسلِمَه مسلمان شو

د پنجاب د يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي بيان دے، يوه ورځ د کراچۍ نه يوه مدني قافله زمونږ علاقے ته راغلې وه، د مدني قافلے والؤ سره ما هم په علاقائي دوره کښې شرکت اوکړو، مونږ د يو درزي د دُکان خوا ته بهَر خلق راجمع کړل او د نيکۍ دعوت مو ورکړو، چې کله بيان ختم شو نو د هغه دُکان يو ځلمي نوکر اووئيل: زه غيرمسلمه يم.

ستاسو د نيکۍ دعوت زما په زړه ډير اثر اوکړو، مهرباني اوکړئ ما په اسلام کښې داخل کړئ، بيا اَلْحَمْدُ لِلّٰه هغه کلمه اوئيله او مسلمان شو.

**خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو!** د بيان په آخره کښې د سُنَّتو فضيلت او يو څو سُنَّتونه او آداب د بيانولو ثواب حاصلووم. تاجدارِ رِسالت، **شَهَنْشاهِ نُبُوَّت** صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم اِرشاد فرمائي: "چا چې زما سُنَّتو سره مَحَبَّت اوکړو هغه زما سره مَحَبَّت اوکړو او چا چې زما سره مَحَبَّت اوکړو هغه به جنّت کښې زما سره وي."[1]

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا		جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا
سِينه مې دِ شي جوړه د سنّتو مدينه خوږه آقا		جنّت کښې مې خپل جوړ کړه ګاونډي خوږه آقا

## د سلام کولو سنتونه او آداب

**فرمانِ مصطفٰی** صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم: اَلسَّلَامُ قَبْلَ الْكَلَامِ سلام د خبرو کولو نه مخکښې دے.[2]

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** مسلمان سره د ملاقات په وخت کښې هغه ته سلام کول سُنَّت دي. ❀ د **سلام** کولو په وخت کښې په زړه کښې دا **نِيَّت** پکار دے چې چا ته **سلام** کووم د هغه مال او عِزَّت او پرده ټول زما په حِفاظَت کښې دي او زه په دې څيزونو کښې دَخل اندازي کول [کار لرل] **حرام** ګنړم." ❀ که په ورځ کښې هر څو ځله ملاقات کيږي، که د يوے کوټے نه بلې کوټے ته بيا بيا تلَل راتلَل وي، هلته موجودو مسلمانانو ته **سلام** کول د ثواب کار دے. ❀ په **سلام** کولو کښې د بل نه

---

[1] ...ابنِ عساکر ج۹ ص ۳۴۳
[2] ...ترمذی، کتاب:الاستئذان، باب:ماجاء فی السلام قبل الکلام، صفحه:635، حديث:2699۔

مخکښې کيدل سُنَّت دي. ❁ په سلام کښې مخکښې کيدونکے د اللہ پاك مُقَرَّب (يعني نزدې) بنده دے. ❁ په سلام کښې مخکښې کيدونکے د تَكَبُّر نه بَري (يعني آزاد) دے. خنګه چې زمونږ د خوږ خوږ مُصطفٰی صلَّی اللہ علیهِ واٰلهٖ وسلَّم فرمانِ عاليشان دے: اول سلام کوونکے د تَكَبُّر نه بَري دے.❁ [مخکښې] سلام کوونکي باندې 90 رحمتونه او په جواب ورکوونکي باندې 10 رحمتونه نازليږي.❁ اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ وئيلو سره 10 نيکئ حاصليږي. او که ورسره وَرَحْمَةُ اللهِ اُووائې نو 20 نيکئ به شي.او که وَبَرَكَاتُهٗ ورسره شامل کړئ نو 30 نيکئ به شي. ❁ دغه شان په جواب کښې اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ وَ رَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ وئيلو سره 30 نيکئ حاصليدے شي.❁ د سلام جواب فوراً او په دومره اواز کښې ورکول واجب دي چې سلام کوونکے ئې واورې.

❁ سلام او د سلام د جواب صحيح تَلَفُّظ ياد کړئ. اول ئې زه وايم تاسو ئې واورئ او بيا ئې اووائيئ: اَلسَّلامُ عَلَيْكُمْ (اَسْ.سَلا.مُ .عَلَےْ.کُمْ) اوس زه جواب وايم بيا ئې تاسو اووائيئ: وَعَلَيْكُمُ السَّلام (وَ.عَ.لَيْكُ.مُسْ.سَلام). (1)

د سُنَّتونو زده کولو د پاره د بهارِ شريعت جلد 3 نه حِصَّه 16 او د شيخ طريقَت،اَميرِ اهلسنّت، حضرتِ علّامه مَولانا محمد الياس عطّار قادِرى دامَتْ بَرَكَاتُهُمُ العَالِيَه د 91 صفحو کتاب "550 سُنّتیں اور آداب" واخلئ او اولولئ ئې.

اللہ پاک دِ مونږ ته د عمل کولو توفيق راکړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]...550 سنّتیں اور آداب، صفحہ: 30-32۔

# د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپے] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت کښې د سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبْر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې سرکارِ مدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر کښې د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي.[1] راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دے چې تاجدارِمدينه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخکښې او كه ناست وو نو اودريدلو نه مخکښې به د هغه ګُناهونه مُعاف کړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريکه دا دُرُود اووائيو.

---

1 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

﴿3﴾د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

﴿4﴾د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِيْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِى رحمۃ اللہ علیہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل لوستلو باندې د شپږو لاكو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[2] راځئ چې په شريكه ئې اُووائيو.

﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ كَمَا تُحِبُّ وَتَرضٰى لَهٗ

يوه ورځ يو كس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اكبر رضی اللہ عنہ تر مينځه كښينولو، په دې باندې صَحابَهٔ كرام رضی اللہ عنہم حيران شو چې دا خوك ذِى مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې كله هغه لاړو نو سركار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې كله په ما باندې دُرُودِ پاك لوَلي نو داسے ئې لوَلي.[3] راځئ چې

---

1...القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

2...افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

3...القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رضی اللہ عنہما نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[3] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

1... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ۲/۳۲۹، حديث:۳۰

2... مجمع الزوائد، كتاب الادعية، باب في كيفية الصلاة...الخ، ۱۰/۲۵۴، حديث:۱۷۳۰۵

3... تاريخ ابنِ عساكر، ۱۹/۱۵۵، حديث:۴۴۱۵